ننګرهارپوهنتون

اقتصاد پوهنځي

BBAڅانګه

# (ليسانس دوري پايليک)

عنوان: په ننګرهارولايت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه د مشتريانو رضايت

Ketabton.com

څیړونکی: سبحان الله واحدی

لارښود استاد:پوهنيارنقيب الله (اتل)

کال..........................................................................................................................۱۴۰۰ هـ.ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګرهار پوهنتون

اقتصاد پوهنځی

BBA څانګه

(په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه د مشتریانو رضایت) موضوع د تعین غوښتنلیک:

داقتصاد پوهنځي محترم ریاست ته !

زه ( سبحان الله) د (عیدمحمد) زوی د(۱۴۰۰) کال د BBA څانګې دڅلورم ټولګي محصل، چې غواړم دخپلې تحصیلي دوري دپوره کولو لپاره پایلیک ترتیب کړم. هیله کوم چې دپایلیک د موضوع او لارښود استاد د تعین لپاره د مربوطه څانګې آمریت ته دلازم هدایت په ورکولو سره راسره همکاروکړي.

په درنښت

دمحصل امضاء

د(BBA) څانګې محترم آمریت ته!

په مهربانی سره نوموړي محصل سره د موضوع او لارښود استاد د تعین لپاره قانوني اقدام ترسره کړي.

پوهنمل محمد صادق رهنما

داقتصاد پوهنځي رئیس

محترم! دنوموړي محصل سره د پایلیک موضوع(په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه د مشتریانو رضایت ) ترعنوان لاندي دمحترم استاد (پوهنیار نقیب الله(اتل)) ترلارښوني لاندي تعین او د(BBA) څانګې د مونوګرافونو دثبت په کتاب کې په (                    ) ګنه ثبت شو.

پوهنیار عبدالرحمن درد

د BBA څانګې آمر

زه ( پوهنیار نقیب الله(اتل) ) د نوموړي محصل سره د پایلیک په ترتیب او پوره کولو کې د مرستې کولو د هوډ په لرلو سره د لارښود استاد په حیث موافقه کوم.

لارښود استاد

پوهنیار نقیب الله (اتل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننليک(Acknowledgment)

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځی د BBA څانګې د آمر پوهنيار عبدالرحمن درد او ددغه ډيپارټمنت استاد پوهنيار نقيب الله اتل څخه نړي مننه کوم چې زما سره يې ددغه څېړنې په ترسره کولو کې هر اړخيزه همکاري ترسره کړه، او زه يې د خپلو نيکو مشورو څخه برخمن کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

دا چې ښاغلی سبحان الله واحدی د عیدمحمد زوي (په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه د مشتریانو رضایت) تر عنوان لاندي څیړنه زما تر لارښوني لاندي ترسره کړي او د مونوګراف په بڼه یې ترتیب کړي ده. زه یې په اړه خپل نظر په لاندي ډول څرګندوم:

په نوموړي ترسره شوي څیړنه کې د علمي څیړنو ټول اصول په پام کې نیول شوي، د نوموړي څیړنې په پیل کې د موضوع په پس منظر رڼا اچول شوي او په ډیره ښه توګه د څیړنې ستونزه ذکر شوي ده او وروسته د څیړني اهداف ذکر شوي دي،د نوموړي څیړني د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره له لومړني لاس معلوماتو څخه استفاده شوي ده.چې لومړي لاس معلومات یې په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د مشتریانو څخه د پوښتنلیک له لاري راټول شوي دي. او د نوموړو معلوماتو د تحلیل په نتیجه کې په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه د مشتریانو د رضایت کچه معلومه شوي ده.

زه د لارښود استاد په صفت د ښاغلي سبحان الله واحدي له لوري نوموړي ترسره شوي څیړنه او ترتیب شوي مونوګراف د لیسانس دوري د فراغت د یو شرط په توګه کافي بولم او په راتلونکي کې ورته د الله(ج) له دربار د لا ډیرو بریالیتوبونو غوښتونکی یم.

په درنښت

پوهنیار نقیب الله(اتل)

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز(Abstract)

د هر کاروباري سازمان کاميابي د هغه سازمان د مشتريانو په رضايت پوري اړه لري.هغه کمپنۍ چې پدي باندي وتوانيږي چې ترڅو دخپلو مشتريانو رضايت ترلاسه کړي په مارکيټ کې د زيات وخت لپاره پاتې کيدي شي. نن ورځ کاروباري کمپنۍ په دي باندي پوهيدلې دي چې د مشتريانو رضايت د کاروبار د کاميابۍ لپاره ترټولو مهم دي.په عمومې ډول، مشتريان هغه څوک دي چې د مارکيټ او يا کاروبار څخه اجناس او خدمات اخلې چې ترڅو خپلې غوښتنې او ضرورتونه پري باندي پوره کړي.سازمانونه او کمپنۍ بايد کوشش وکړي چې ترڅو د خپلو مشتريانو لپاره د لوړ کيفيت اجناس او خدمات وړاندي کړي، چې پدي سره به د سازمانونو او مشتريانو ترمنځ قوي او اوږد مهاله اړيکې رامنځته شي. او د سازمان اوسنې مشتريان به ددغه سازمان لپاره د نورو مشتريانو دپيدا کيدو سبب وګرځې، ځکه دوي به نوو مشتريانو ته د سازمان د توليدات او خدماتو په اړه معلومات تهيه او يا به يې ورسره شريک کړي. ددغه څيړنې اساسې هدف دا وو چې ترڅو معلومه کړل شې چې په ننګرهارولايت کې مشتريان د ايم ټې اين مخابراتي شرکت د خدماتو څخه رضايت لري او کنه؟.

پدغه څيړنه کې په ننګرهارولايت کې د ايم ټې اين مخابراتي شرکت د ۱۵۰ مشتريانو څخه د پوښتنليک له لاري معلومات راټول شوي دي، چې ۱۰۲ تنه يې نارينه او۴۸ تنه يې ښځينه وو. او د ايکسيل پروګرام څخه په استفادي تحليل شوي دي.

د تحقيق په پايله کې معلومه شوه چې په ننګرهار ولايت کې زيات مشتريان د ايم ټې اين مخابراتي شرکت د اړيکو د فې د قيقو د بيو څخه رضايت نلري،د انټرنټ د بيو څخه رضايټ نلري، د مسيجونو د ليږلو د بيو څخه رضايت نلري،د سيمکارتونو د بيو څخه رضايت نلري، په ځنډ سره د استازو له خوا مشتريانو ته د ځواب ورکولو له کبله مشتريان ددغه ډول اړيکو څخه رضايت نلري، د قرض د تاديې په وخت کې دا چې د مشتريانو څخه يوه اندازه اضافې کريډيټ هم اخيستل کيږي نو مشتريان ددغه ډول قرضي څخه رضايت نلري، د اړيکې پر مهال د شبکې ددرست کارنه کولو له کبله هم مشتريان رضايت نلري، مشتريان په څانګو کې د کارمندانو د برخورد څخه رضايت لري، د اړيکې پر مهال چې د ايم ټې اين مخابراتي شرکت استازي د مشتريانو سره کوم برخورد کوي د هغې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشتریان رضایت لري، د خرڅلاو د ځانګې څخه مشتریان رضایت لري، په ننګرهار ولایت کې مشتریان د ایم ټي این مخابراتي شرکت د انټرنټ د سرعت څخه رضایت لري او د ایم ټي این مخابراتي شرکت په ځانګو کې د موجوده سهولتونو څخه مشتریان رضایت لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شکلونو لیست


۴,۱ شکل:جنسیت.................................................13

۴,۲ شکل:عمر،.................................................14

۴,۳ شکل:اوسیدو ځای.................................................15

۴,۴ شکل:دنده.................................................16

۴,۵ شکل:مدني حالت.................................................17

۴,۶شکل: د اړیکو د فې دقیقي د بیو څخه د مشتریانو رضایت.................................................18

۴,۷ شکل:د انټرنټ د بیو څخه د مشتریانو رضایت.................................................19

۴,۸ شکل: د مسیجونو د لیږلو د بیو څخه د مشتریانو رضایت.................................................20

۴,۹ شکل: د سیمکارتونو د بیو څخه د مشتریانو رضایت.................................................21

۴,۱۰ شکل: د څانګو د کارمندانو د برخورد څخه د مشتریانو رضایت.................................................22

۴,۱۱ شکل:د اړیکې ټینګولو پر مهال د ځواب ورکول وخت.................................................23

۴,۱۲ شکل:د اړیکې پرمهال د وروسته ځواب ورکولو او یا هم هیڅ ځواب نه ورکولو څخه د مشتریانورضایت............24

۴,۱۳ شکل:د اړیکو پر مهال د استازو د برخورد څخه د مشتریانو رضایت....,,,,,.................................................25

۴,۱۴ شکل:د خرڅلاو د څانګې څخه د مشتریانو رضایت.................................................26

۴,۱۵ شکل: د مشتریانو له خوا د ایم ټې این مخابراتي شرکت څخه د قرض په ډول د قرضي اخیستل.....................27

۴,۱۶شکل: داخیستل شوي قرضې ددوباره تادیې څخه د مشتریانو رضایت.................................................28

۴,۱۷ شکل: د انټرنټ د سرعت څخه د مشتریانو رضایت.................................................29

۴,۱۸ شکل:د اړیکو پر مهال د مشتریانو د خینو ستونزو سره مخامخ کیدل.................................................30

۴,۱۹ شکل:د اړیکو د سرعت څخه د مشتریانو رضایت.................................................31

۴,۲۰ شکل: د ایم ټې این مخابراتي شرکت په څانګو کې د لازمو سهولتونو موجودیت.................................................32

۴,۲۱ شکل: دایم ټې این مخابراتي شرکت په څانګو کې د موجوده سهولتونو څخه د مشتریانو رضایت.......................33

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


لومړی فصل ........ 1
پېژندنه(Introduction) ........ 1
د موضوع شالید(Background of the study) ........ 1
د څېړنې ستونزه (Problem Statement) ........ 3
د څېړنې اهمیت (Significance of the study) ........ 3
د څېړنې هدف (Research Objective) ........ 3
د څېړنې پوښتنه(Research Questions) ........ 3
دوهم فصل ........ 4
تېرو لیکنو ته کتنه(Literature Review) ........ 4
د مشتریانو د رضایت پروسې ........ 9
د مشتریانو په رضایت باندې تاثیرکوونکې فکتورونه ........ 9
د مشتریانو درضایت د ترلاسه کولو کتې ........ 9
د مشتریانو په رضایت اووفادارۍ کې د کارمندانو رول ........ 10
د خدماتو کیفیت او د مشتریانو رضایت ........ 11
دریم فصل ........ 12
دڅېړنې میتودولوژي(Research Methodology) ........ 12
څلورم فصل ........ 13
د معلوماتو تحلیل او پایلې(Data Analysis and Results) ........ 13
پنځم فصل ........ 34
مناقشه او نتیجه ګیري(Discussion and Conclusion) ........ 34
مناقشه(Discussion) ........ 34
نتیجه ګیري (Conclusion) ........ 40
وړاندیزونه(Recomendation) ........ 41
ماخذونه: ........ 42

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## پېژندنه(Introduction)

## د موضوع شالید(Background of the study)

د هر کاروباري سازمان کامیابي د هغه سازمان د مشتریانو په رضایت پوري اړه لري.هغه کمپنۍ چې پدي باندي وتوانیږي چې ترڅو دخپلو مشتریانو رضایت ترلاسه کړي په مارکیټ کې د زیات وخت لپاره پاتې کیدي شي. نن ورځ کاروباري کمپنۍ په دي باندي پوهیدلې دي چې د مشتریانو رضایت د کاروبار د کامیابۍ لپاره ترټولو مهم دی.په عمومې ډول، مشتریان هغه څوک دي چې د مارکیټ او یا کاروبار څخه اجناس او خدمات اخلي چې ترڅو خپلې غوښتني او ضرورتونه پري باندي پوره کړي.سازمانونه او کمپنۍ باید کوشش وکړي چې ترڅو د خپلو مشتریانو لپاره د لوړ کیفیت اجناس او خدمات وړاندي کړي، چې پدي سره به د سازمانونو او مشتریانو ترمنځ قوي او اوږد مهاله اړیکې رامنځته شي. او د سازمان اوسني مشتریان به ددغه سازمان لپاره د نورو مشتریانو دپیدا کیدو سبب وګرځي، ځکه دوي به نوو مشتریانو ته د سازمان د تولیدات او خدماتو په اړه معلومات تهیه او یا به یې ورسره شریک کړي.د مشتریانو د رضایت ترلاسه کول آسانه وظیفه هم نده، نو ځکه ځیني فکتورونه شتون لري چې د هغې په نظرکې نیولو سره باید د مشتریانو رضایت ترلاسه کړل شي.

د MTN مخابراتي شرکت د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې په کال ۲۰۰۶ کې په فعالیت شروع کړي ده.او د افغانستان دولت ته یې په دغه کال د فعالیت د اجازي د ترلاسه کولو په منظور ۴۰،۱ میلیون ډالره تادیه کړي دي.دغه شرکت د ۲۰۰۶ کال په پاي کې په افغانستان کې ۲۰۰۰۰۰ مشتریان درلودل، او د ۲۰۲۱ کال د جون د میاشتې په اخر کې MTN مخابراتي شرکت په افغانستان کې ۱۳،۷ میلیونه مشتریان درلودل ،همدارنګه د MTN مخابراتي شرکت اوس مهال د نړي په ۲۱ هیوادونو کې فعالیت ترسره کوي،(Hamdard, 2012) د ایم تې این مخابراتي شرکت یو څو میلیتي (Multinational) کمپني ده چې په ۱۹۹۴م کال کې یې په جنوبي افریقا کې خپل فعالیتونه شروع کړل ، دغه شرکت په لومړیو کې د افغانستان په څلور لویو ښارونو کابل، مزار شریف، کندز اوجلال آباد کې فعالیت درلود. (د ایم تې این مخابراتي شرکت رسمي ویب پاڼه, ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د MTN مخابراتي شرکت مرکزي د فتر د کابل ښار په نوي ښار(شهرنو) کې موقعيت لري، او همدارنګه د افغانستان په ټولو ولايتونو کې اوس مهال دغه شرکت فعاليت ترسره کوي او د خپلو مشتريانولپاره خدمات وړاندي کوي.

په ننګرهارولايت کې د ايم ټي اين مخابراتي شرکت ټولي ۲۰۲ څانګې موجودي دي چې ځينې يې په لاندي ډول دي:

| شماره | موقعيت | آدرس | شماره | موقعيت | آدرس |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | ننګرهار | مجيب ماركيټ – دو سركه | 26 | ننګرهار | ماركو بازار |
| 2 | ننګرهار | قلعه جانان خان | 27 | ننګرهار | عبدالحق مينه |
| 3 | ننګرهار | ددارلمعلمين په مخکې | 28 | ننګرهار | ګل آغا مسجد – خالص فاميلې |
| 4 | ننګرهار | د کامي پول | 29 | ننګرهار | غلام دستګير ماركيټ |
| 5 | ننګرهار | چکنوري – دتبليغيانو مرکز | 30 | ننګرهار | لغمان اډه |
| 6 | ننګرهار | د ميوي منډوي | 31 | ننګرهار | خيبر ماركيټ |
| 7 | ننګرهار | جلال آباد – مرکز | 32 | ننګرهار | نعمان بن ثابت مسجد د بيز چوک |
| 8 | ننګرهار | ددارلمعمين سرک | 33 | ننګرهار | بهسود زون۳ |
| 9 | ننګرهار | لومړي زون | 34 | ننګرهار | خالص فاميلې |
| 10 | ننګرهار | لومړي زون | 35 | ننګرهار | کابل هډه |
| 11 | ننګرهار | CSP3 | 36 | ننګرهار | جلال آباد |
| 12 | ننګرهار | د تلاشۍ چوک | 37 | ننګرهار | زون ۳ علي خيل |
| 13 | ننګرهار | غلام دستګير ماركيټ | 38 | ننګرهار | افغان مينه |
| 14 | ننګرهار | د کامې ولسوالې – دولسوالۍ بازار | 39 | ننګرهار | د تلاشۍ چوک |
| 15 | ننګرهار | ماركو بازار – شينوار | 40 | ننګرهار | الفت مينه |
| 16 | ننګرهار | دستګير ماركيټ – چوک مخابرات | 41 | ننګرهار | کوز کونړ |
| 17 | ننګرهار | غلام دستګير ماركيټ | 42 | ننګرهار | بهسود |
| 18 | ننګرهار | کامه - قلعه آخند | 43 | ننګرهار | د کامې ولسوالې |
| 19 | ننګرهار | ماركو بازار | 44 | ننګرهار | کوز کونړ – ياسين بابا |
| 20 | ننګرهار | غلام دستګير ماركيټ | 45 | ننګرهار | کوز کونړ – ياسين بابا |
| 21 | ننګرهار | د بيس بازار | 46 | ننګرهار | درونټه |
| 22 | ننګرهار | خالص فاميلې د DCSP مخکې | 47 | ننګرهار | نارنج باغ |
| 23 | ننګرهار | غلام دستګير ماركيټ – تلاشۍ چوک | 48 | ننګرهار | قلعه جانان خان |
| 24 | ننګرهار | ماركو بازار | 49 | ننګرهار | درونټه دبې بې مريم بازار |
| 25 | ننګرهار | خالص فاميلې | 50 | ننګرهار | د صحت عامې چوک |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې ستونزه (Problem Statement)

د څېړنې د موضوع اړوند د ډیرو لیکنو ته کتني څخه معلومه شوه چې تردې دمه په یاده موضوع کې کومه علمي څېړنه ترسره شوې نده،پس د څېړنې د نوموړې خالیګاه د ډکولو او په یاده موضوع کې د معلوماتو د اضافه کولو په خاطر دغه څېړنه ترسره کیږي. او زه غواړم د خپل تحقیق په پایله کې دلوموړې ځل لپاره معلومه کړم چې په ننګرهارولایت کې دایم تې این مخابراتي شرکت د خدماتو څخه مشتریان رضایت لري او کنه؟،

## د څېړنې اهمیت (Significance of the study)

ددغه تحقیق په پایله کې به زه پدې باندې وتوانیږم چې ترڅو معلومه کړم چې په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه مشتریان رضایت لري او کنه؟

زه به د خپل دغه تحقیق په پایله کې دا هم معلومه کړم چې د MTN مخابراتي شرکت مشتریان ددغه شرکت دکومو خدماتو څخه رضایت لري او دکومو څخه یې رضایت نلري. او نتیجه به یې په ننګرهارولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د مرکزي څانګې سره شریکه کړم چې پدې سره به نوموړې شرکت خپل د ضعف نقطې وپیژني او د هغې دحل په اړوند به اقدام ترسره کړي، چې پدې سره به د نوموړې شرکت د خدماتو دوړاندې کولو په کیفیت کې لا ښه والی رامنځته شې چې ددې په نتیجه کې به د نوموړې شرکت په خرڅلاو او ګټه کې هم زیاتوالی رامنځته شې ، او د MTN مخابراتي شرکت به پدې باندې وتوانیږي چې د مارکیټ زیاته برخه خپله کړي او په ښه ډول سره به دنورو مخابراتي شرکتونو سره درقابت توانایې ترلاسه کړي.

## د څېړنې هدف (Research Objective)

ددغه څېړنې اصلي هدف په ننګرهارولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه د مشتریانو د رضایت موندل دي.

## د څېړنې پوښتنه(Research Questions)

آیا په ننګرهارولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د خدماتو څخه مشتریان رضایت لري او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

## تیرو لیکنو ته کتنه(Literature Review)

د نومړي څېړني د موضوع اړوند په یو شمیر هیوادونو کې ځیني څېړني ترسره شوي دي چې په لاندي توګه ورڅخه یادونه کوو:

1. په ۲۰۱۷ کال کې په افغانستان کې دمخابراتو د صنعت څخه د مشتریانو رضایت ترعنوان لاندي د اجمل حیدري له خوا څېړنه ترسره شوي ده، دغه څېړنه د بدخشان، تخار، کندزاو بغلان په پوهنتونو کې ترسره شوي ده. ددغه څېړني Target Population هم ددغه پوهنتونو محصلین دي.

په دغه تحقیق کې د مشتریانورضایت یوازنی تابع متحول او د خدمات کیفیت، د مخابراتي شبکو تر پوښښ لاندي ساحې، د قیمتونو مختلف والی، د مشتریانو د خوښې وړ وړاندیزونه، د خرڅلاو پراختیا، د پرچون پلورونکو دوکانونه، دوستانه اوسیدل او د انټرنټ خدمات آزاد متحولین وو.

پدغه تحقیق کې ٪۳۳،۲ د انټرویو ګډون کوونکې ښځینه او٪۶۶،۲ د انټرویو ګډون کوونکي نارینه وو.د تحقیق په پایله کې معلومه شوه ده چې د مخابراتي شبکو تر پوښښ لاندي ساحې او دخدماتو د کیفیت څخه مشتریان رضایت نلري.

او همدارنګه دا چې ټول په دغه تحقیق کې ۹ متحولین څېړل شوي دي. او ددغه تحقیق په پایله کې معلومه شوه چې ددغه متحولینو له جملي څخه یوازي ۶ متحولین کولای شو چې د مشتریانو په رضایت باندي یې د تاثیرکوونکو عواملو په توګه یې قبول کړو. چې دغه عوامل عبارت دي له:

لومړی،د مشتریانو د خوښي وړ وړاندیزونه خصوصا د نړیوالو اړیکو په برخه کې د مشتریانو د رضایت سره قوي اړیکه لري. دوهم، دوستانه اوسیدل، یو بل هغه فکتور دي چې د مشتریانو په رضایت باندي تاثیر کوي، مخابراتي کمپنۍ د پر مختګ او ابادۍ په کارونو کې د مهمو ونډو په درلودلو سره د مکتبونو، سرکونو، پلونو، صحت برخې او نورو برخو کې پانګونه کوي. دریم، تحقیق د خرڅلاو په زیاتوالي او د مشتریانو په رضایت کې مهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

رول لري، هرڅومره چې دکمپنیو خرڅلاو زیاتیږي دا ددی ښکارندویې کوي چې مشتریان ددغه کمپنۍ څخه زیات رضایت لري.

څلورم، دقیمتونو مختلف والی هم د مشتریانو په رضایت کې مهم رول لري، د افغانستان په شان په یوه هیواد کې چې د خلکو دعاید سطحه ټیټه ده، په ارزانه توګه دخدماتو وړاندي کول د مشتریان د رضایت او د کمپنۍ سره د وفاداره پاتې کیدلو سبب کیږي. بلاخره مشتریان د انټرنټ د خدماتو څخه رضایت لري دا ځکه چې انټرنټ د افغان مشتریانو لپاره یوه نوي پدیده ده. (حیدري، په افغانستان کې د مخابراتو د سکټور څخه د مشتریانو رضایت، ۲۰۱۷)

2. په ۱۳۹۲ کال کې د ایران په هیواد کې د مشتریانو د رضایت په ترلاسه کولو باندي مؤثرعوامل ترعنوان لاندي د مهدي عمادی، هلن حسیني،کوروش قهرمان تبریزی اوفرشته محمد خانې له خوا څیړنه ترسره شوي ده او په دغه څیړنه کې دا واضح شوي چې په نړیوال مارکیټ کې د رقابت په وړاندي د مشتریانو رضایت یوه ستره ننګونه ده.

دغه تحقیق چې د ایران هیواد په ورزشې فروشګاوو کې د مشتریانو د رضایت په ترلاسه کولو باندي مؤثرعوامل ترعنوان لاندي ترسره شوي ده او په دغه تحقیق کې درضایت سنجولو د کانو ماډل څخه استفاده شوي ده او د ۵۸۰۰ کسانو څخه معلومات راټول شوي دي.

۳۸٪ اشخاصو دا ویلي چې دوی هره میاشت د ورزشي فروشګاوو څخه خریداري ترسره کوي،همدارنګه ددغه تحقیق په پایله کې دا هم معلومه شوي ده چې ۵۶٪ اشخاص دیته ترجیح ورکوي چې خپل د ضرورت وړ اجناس د یوي مشخصې ورزشې فروشګاه څخه خریداري کړي.

۸۵٪ اشخاصو ویلي چې دوي هره هفته د ورزشي فروشګاوو څخه خریداري ترسره کوي، ۷۷٪ اشخاصو ویلي چې دوي دوه هفتي وروسته د ورزشي فروشګاوو څخه خریداري ترسره کوي،۳۸٪ اشخاصو ویلې چې دوي یوه میاشت وروسته د ورزشي فروشګاوو څخه خریداري ترسره کوي،۱۶٪ اشخاصو ویلي چې دوي دوه میاشتې وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورزشي فروشګاوو څخه خريداري ترسره کوي،۱۷٪ اشخاصو ويلي چې دوي هر دوي مياشتې وروسته د ورزشي فروشګاوو څخه خريداري ترسره کوي، ۲۰٪ اشخاصو ويلي چې دوي هر شپږ مياشتي وروسته د ورزشي فروشګاوو څخه خريداري ترسره کوي او ۷۹٪ اشخاصو ويلي چې دوي هر يو کال وروسته د ورزشي فروشګاوو څخه خريداري ترسره کوي.

او همدارنګه ۵۶٪ اشخاصو ويلي چې دوي د ورزشي فروشګاوو څخه خريداري ترسره کوي،۲۸٪ اشخاصو ويلي چې دوي د ورزشي فروشګاوو څخه خريداري نه ترسره کوي.د تحقيق په پايله کې دا هم معلومه شوي ده چې د ورزشي فروشګاوو مشتريان غواړي د يوي مشخصي فروشګاه څخه خريداري ترسره کړي. ماتيلا او وينز(۲۰۰۱) دا ويلي چې د فروشګاه وو محيط د مشتريانو په رضايت کې مهم او آساسې تاثير لري او دوي په فروشګاه وو کې د آرامه موسيقي غږ او مناسب د عطرو بوي شتون هم مهم او اغيزمن بللي دي. ليو او همکارانو يي هم په ۲۰۰۸ کال کې په خپل يو تحقيق کې د فروشګاوو فزيکې محيط د مشتريانو په رضايت کې مهم بللی وو او د همدغه تحقيق پايلي هم د ماتيلا او وينز، ليو او همکارانو د تحقيقونو د پايلو سره يو شانته دي. بورات (۲۰۰۶) دمشتريانو سره د کارمندانو برخورد يې د مشتريانو د رضايت د مهمو عواملو ذکر کړي وو، او ددغه تحقيق په پايله کې هم دا معلومه شوه چې په ايران کې هم د مشتريانو سره د کارمندانو ښه برخورد د مشتريانو په رضايت کې مهم رول لري. آما پدغه تحقيق کې دا هم وموندل شوه چې په ايران کې فزيکې محيط نسبت د کارمندانو برخورد ته مشتريانو ته ډير ارزښت لري او ورته مهم دي. ليو او همکارانو يي (۲۰۰۸) د کارمندانو د اطلاعاتو مناسب کيفيت ، فزيکې محيط ، د کاليو مارک(نښه) د مشتريانو د رضايت په ترلاسه کولو کې مهم بللي دي، چې ددغه تحقيق پايلي هم د ليو او همکارانو د پايلو سره ورته والی لري.ددغه تحقيق نتايجو دا ښوده چې قيمت او کيفيت د ورزشي فروشګاوو څخه د خريداری پر مهال مهم عوامل ندي.او سيرک (۲۰۰۸) په خپل تحقيق کې دا موندلي ده چې قيمت د ورزشي فروشګاوو څخه د خريداری مهم عامل دي.لې او همکارانو يې (۲۰۰۸) په خپل تحقيق کې دا ومونده چې د خدماتو کيفيت د مشتريانو په جذب کې مهم ترينه عامل دي.سونيکر او هينز په خپل تحقيق کې (۲۰۰۷) دا ومونده چې د اجناسو کيفيت د مشتريانو په رضايت او خريداری کې مهم عامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه تحقیق کې دا وموندل شوه چې د ورزشي فروشګاوو مشتریان په ایران کې قیمت، د اجناسو کیفیت، او د فروشګاوو د مدیریت مناسب والي ته ډیر ارزښت نه ورکوي، بلکې دوي نور عواملو لکه(د فروشګاوو محیط، د نویو کالیو په وړاندي کولو کې مخکي والی، او د خرڅوونکو د کالیو څخه آګاهي) ته ډیر اهمیت ورکوي. (مهدی عمادی،هلن حسیني،کوروش قهرمان تبریزي،فرشته محمد خاني, ۱۳۹۲)

3. په ۲۰۱۸ کال د Liberia په هیواد کې د خدماتو د کیفیت تاثیر د مشتریانو په رضایت باندي تر عنوان لاندي د Ehiie Clifford Johnson,Jesse S. Karlay له خوا څیړنه ترسره شوي ده، چې ددغه څیړني اصلي هدف دا وو چې ترڅو معلومه کړي چې د خدماتو کیفیت د مشتریانو په رضایت باندي څه ډول تاثیر لري.

ددغه تحقیق پایله کې معلومه شوه چې د خدماتو قیمت ترټولو زیات د مشتریانو به رضایت باندي تاثیر لري، او دا وښودل شوه چې د خدماتو کیفیت د مشتریانو په رضایت باندي مثبت تاثیر لري، او معلومه شوه چې د خدماتو د کیفیت او د مشتریانو د رضایت ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري. (Ehihie Clifford Johnson, Jesse S.Karly, 2018)

او همدارنګه ددغه تحقیق په پایله کې هغه عوامل هم وموندل شول چې د مشتریانو په رضایت باندي تاثیر کوي، چې په لاندي ډول دي:

1. د ذوق تاثیر د مشتریانو په رضایت:ددغه تحقیق په پایله کې دا هم معلومه شوه چې د ذوق او د مشتریانو د رضایت ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري.

که چیري کمپنۍ د مشتریانو ذوق په نظر کې ونه نیسي نو دوي نشي کولای چې د خپلو مشتریانو رضایت ترلاسه کړي، نو په نتیجه کې ویلي شو چې د کمپنیو له خوا د مشتریانو د ذوق په نظر کې نیول د مشتریانو په رضایت باندي ډیر تاثیر لري.د کمپنیو له خوا د مشتریانو د ذوق په نظر کې نیول ددی باعث ګرځي چې د مشتریانو او کمپنیو ترمنځ اوږد مهاله اړیکي رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د اعتبار تاثیر د مشتریانو په رضایت باندي: ددغه تحقیق په پایله کې دا هم معلومه شوه چې د خدماتو د اعتبار، خدماتو کیفیت او د مشتریانو د رضایت ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري.
3. د قیمت تاثیر د مشتریانو په رضایت باندي: ددغه تحقیق په پایله کې دا هم معلومه شوه چې د قیمتونو او د مشتریانو د رضایت ترمنځ هم مثبته اړیکه شتون لري او قیمت او کیفیت یو له بل څخه نه جلا کیدونکي دي.
4. په ۲۰۱۸ کال کې د مشتریانو په رضایت او وفادارۍ د خدماتو د کیفیت تاثیر ترعنوان لاندي د **Ghazal shams** له خوا څېړنه ترسره شوي ده، چې ددغه څېړنې اصلي هدف د مشتریانو په رضایت او وفادارۍ باندي د خدماتو د کیفیت د تاثیر معلومول وو.د خدماتو کیفیت د مؤفقیت د ترلاسه کولو، د مشتریانو د ساتلو او زیاتي ګټي د ترلاسه کولو لپاره ضروري دي. (Shams, 2018)

ددغه تحقیق په پایله کې دا معلومه شوه چې:

1. د خدماتو کیفیت د مشتریانو په رضایت باندي مثبت تاثیر کوي.
2. د مشتریانو رضایت د مشتریانو په وفادارۍ باندي مثبت تاثیر کوي.

5. په ۲۰۱۲ کال کې د چین په هیواد کې د آنلاین خریدارۍ څخه د مشتریانو په رضایت باندي تاثیر کوونکو عواملو ارزونه ترعنوان لاندي د **Xiaoying Guo, Kwek Choon Ling** او **Min Liu** له خوا څېړنه ترسره شوي ده.

ددغه تحقیق مورد نظر جمعیت (**Target Population**) هغه زده کوونکي وو چې د آنلاین خریدارۍ تجربه یې درلوده او په دغه تحقیق کې د ۳۵۰ انلاین خریداري کوونکو څخه معلومات راټول شوي دي او ددغه تحقیق په پایله کې دا موندل شوي ده چې د ویب سایټ ډیزاین، امنیت، د معلوماتو کیفیت، دتادیې میتود، د بریښنایې خدماتو کیفیت، د تولیداتو کیفیت، دتولیداتو مختلف والی او د انتقال خدمات د چین په هیواد کې د آنلاین خریداري څخه د مشتریانو په رضایت باندي مثپت تاثیر لري.(Xiaoying Guo, Kwek Choon Ling, Min Lue, 2012)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې تردي مهاله پدغه موضوع کې په ننګرهارولایت کې کومه څیړنه نده ترسره شوي، نو زه غواړم چې د لومړي ځل لپاره ددغه تحقیق په پایله کې معلومه کړم چې آیا په ننګرهارولایت کې دایم تېې این مخابراتي شرکت د خدماتو څخه مشتریان رضایت لري او کنه؟

## د مشتریانو د رضایت پروسي

1. د مشتریانو د توقعاتو پیژندل
2. مشتریانو ته ډاډ ورکول
3. اجرآت
4. د مشتریانو سره په دوامدار شکل د بحثونو ترسره کول
5. د مشتریانو د رضایت سروي ګانې

## د مشتریانو په رضایت باندي تاثیر کوونکې فکتورونه

1. قیمت
2. کیفیت
3. د مشتریانو سره برخورد
4. خصوصیات
5. لاس رسی

## د مشتریانو درضایت د ترلاسه کولو ګټې

که چیری یو سازمان یا یو شرکت پدي باندي وتوانیږي چې د مشتریانو رضایت ترلاسه کړي نو دغه د مشتریانو د رضایت ترلاسه کول به لاندي ګټې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: د عمومي اعتماد ترلاسه کول ۲: د مثبتو اظهاراتو او شهرت ښه والی او زیاتوالی ۳:د نویو مشتریانو د پیداکولو په مصارفو کې کموالی

۳: ددوامداره رشد رامنځته کیدل ۴:درقابتي مزیتونو رامنځته کیدل

## د مشتریانو په رضایت او وفادارۍ کې د کارمندانو رول

د هر سازمان کامیابي پدي کی ده چې ترڅو ددندو د پرمخ وړلو لپاره غوره او په کار پوه کارمندان وګماري، چې له همدي وجی د کارمندانو اهمیت نسبت مشتریانو ته زیات دي، ځکه چې په یوه سازمان کې د په کار پوهو او غوره کارمندانو شتون کولای شي چې د سازمان لپاره مشتریان جذب کړي او په نتیجه کې ویلي شو چې په یوه سازمان کې د غوره او په کارپوهو کارمندانو شتون د مشتریانو د رضایت د ترلاسه کیدو سبب ګرځي او د مشتریانو د رضایت ترلاسه کیدل د سازمان د ګټي د زیاتوالي سبب کیږي.

د سازمانونو له خوا د اوږد مهال لپاره مشتریان د خپل ځان سره راضي او وفاداره ساتل د وفادره کارمندانو د شتون څخه پرته امکان پذیره ندي، ځکه چې راضي او وفاداره کارمندان د مشتریانو لپاره د لوړ کیفیت خد مات وړاندي کوي او د مشتریانو د رضایت په ترلاسه کولو او د سازمان سره د هغوي په وفاداره کولو کې مهم او اغیزناکه رول لري.

دا چې مشتریان د هغه عرضه کوونکو په لټه کې وي چې هغوي ته په مراتبو بهتره تولیدات او خدمات وړاندي کړي، نو دسازمانونو مدیران باید د خدماتو د کیفیت،د مشتریانو رضایت او وفادارۍ په برخو کې د کارمندانو نقش ته خاصه توجه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدماتو کیفیت او د مشتریانو رضایت

کمپنۍ په دوامداره شکل د خدماتو د کیفیت د ښه والي لپاره د نويو او مؤثرو لارو د موندلو په لټه کی وي، چې دا د رقابتې مزيت (Competitive Advantage) په شکل استعماليږي چې ترڅو مشتریان جذب او د خپل ځان سره يې د اوږد مهال لپاره وساتي اوزياته ګټه ترلاسه کړي.دا چې اوس مهال کمپنۍ په نړيواله کچه د رقابت سره مخامخ دي هره کمپنۍ غواړي چې د ټکنالوجيکي پرمختګ او نړيوالتوب په مرسته په بازارکې خپل سهم زيات کړي او زياته ګټه ترلاسه کړي او همدارنګه دوي ددي کوشش هم ترسره کوي چې ترڅو د خپلو مشتریانو رضایت ترلاسه کړي او د اوږد مهال لپاره يې د خپل ځان سره وساتي.د خدماتو د کیفیت ښه والی د مشتریانو په رضایت باندي مثبت تاثيرلري، او د مشتریانو د رضایت لپاره د خدماتو د کیفیت ښه والی د حياتي اهميت څخه برخمن دي.د تحقيقونو په پايله کې دا معلومه شوي ده چې د خدماتو د کیفیت او د مشتریانو د رضایت ترمنځ مثبته اړيکه شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## دڅېړنې میتودولوژي(Research Methodology)

نوموړې څېړنه یوه تشریحي څېړنه ده او د نوموړې څېړنې د هدف د ترلاسه کولو او د څېړنیزې پوښتنې د ځوابولو په موخه د لومړي لاس معلوماتو څخه استفاده شوي ده.د یادونې وړ ده چې لومړي لاس معلومات مو په ننګرهار ولایت کې د MTN مخابراتي شرکت د مشتریانو څخه د پوښتنلیک په مرسته راټول کړي دي او د ایکسیل پروګرام څخه په استفادي تحلیل شوي دي. پدغه څېړنه کې په ننګرهار ولایت کې د ایم ټي این مخابراتي شرکت د ۱۵۰ مشتریانو څخه د پوښتنلیک له لارې معلومات راټول شوي دي، چې ۱۰۲ تنه یې نارینه او۴۸ تنه یې ښځینه وو. په پوښتنلیک کې پوښتنې په دوه برخو ویشل شوي وي چې یوه برخه یې د ځواب ورکونکو د شخصي معلوماتو لکه جنسیت، عمر،د اوسیدو ځای، دنده، مدني حالت په اړه وه او په دوهمه برخه کې یې د څېړنې اړوند شپاړلس پوښتنې ځای پر ځای شوي وي. د پوښتنو دوهمه برخه چې د څېړنې اړوند پوښتنې وي بیا په پینځو نورو فرعي برخو ویشل شوي وه چې عبارت دي له:

1. د نرخونو(بیو) څخه د مشتریانو رضایت: پدې برخه کې د څېړنې اړوند څلور پوښتنې په پوښتنلیک کې ځاي پر ځای شوي وي.
2. د کارمندانو د برخورد څخه د مشتریانو رضایت: پدې برخه کې د څېړنې اړوند پینځه پوښتنې په پوښتنلیک کې ځاي پر ځای شوي وي.
3. د قرضي د ورکړې د خدمتونو څخه د مشتریانو رضایت: پدې برخه کې د څېړنې اړوند دوه پوښتنې په پوښتنلیک کې ځاي پر ځای شوي وي.
4. د انټرنټ او په اړوند ساحه شبکې دکارکولو د سرعت څخه د مشتریانو رضایت: پدې برخه کې د څېړنې اړوند درې پوښتنې په پوښتنلیک کې ځاي پر ځای شوي وي.
5. د ځانګو د فریکې محیط څخه د مشتریانو رضایت: پدې برخه کې د څېړنې اړوند دوه پوښتنې په پوښتنلیک کې ځاي پر ځای شوي وي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

## د معلوماتو تحلیل او پایلې(Data Analysis and Results)

د نوموړې څېړنې د هدف د ترلاسه کولو په موخه د پوښتنلیک له لارې لومړي لاس معلومات راټول شوي دي او د Excel سافټویر په مټ مو تحلیل کړي دي، چې پایله یې په لاندې ډول ذکر کیږي:


پدغه تحقیق کې ټولو 150 کسانو څخه معلومات راټول شوي دي، چې ددې له جملې څخه 102 تنه یې نارینه او 48 تنه یې ښځینه وو.ګرافیکي ښودنه یې په لاندې ډول ده:




۴,۱ شکل:جنسیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعمرله پلوه پدغه تحقیق کې %78 ځواب ورکوونکو د ۱۵-۳۰ کلونو پوري سن درلود او %19 ځواب ورکوونکو د ۳۰-۴۵ کلونو پوري سن درلود او تنها %3 ځواب ورکوونکو د ۴۵-۵۵ کلونو پوري سن درلود. ګرافیکي ښودنه یې په لاندي ډول ده:





۴,۲ شکل:عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسیدو د ځای له پلوه 77% ځواب ورکوونکي د ښار اوسیدونکي او23% ځواب ورکوونکي د کلي اوسیدونکي وو.


ګرافیکي ښودنه یې په لاندي ډول ده:




۴,۳ شکل:اوسیدو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ددندي له پلوه هغه کسان چې په دغه تحقیق کې معلومات ترینه راټول شوي دي،63% کسان زده کړیالان، 20% کسان د آزاد شغل خاوندان،13٪ کسان ددولت کارمندان، او 4% کسان د نورو دندو درلودونکي دی. ګرافیکي ښودنه یې په لاندې ډول ده:**




**۴,۴ شکل:دنده**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د مدني حالت له پلوه د هغه کسانو څخه چې معلومات ترينه راټول شوي دي %68 کسان مجرد او %32 کسان متآهل وو. ګرافيکي ښودنه يې په لاندي ډول ده:**




**۴,۵ شکل:مدني حالت**

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا چې مشتریان داړیکو د فې دقیقې د بیو څخه رضایت لري او کنه؟، د راټولو شوو معلوماتو د تحلیل په پایله کې معلومه شوه چې: %32 ځواب ورکوونکو ویلي چې دوي د اړیکو د فې د قیقې دبیو څخه رضایت نلري، او %28 ځواب ورکونکو ویلي چې دوي د اړیکو د فې دقیقې د بیو څخه رضایت لري، او %27 ځواب ورکوونکو ویلي چې دوي د اړیکو د فې د قیقې د بیو څخه رضایت نلري، او %13ځواب ورکوونکو ویلي چې دوي د اړیکو دفې د قیقې د بیو څخه ډیر رضایت لري، نو په نتیجه کې ویلي شو چې یوه زیاته فیصدي مشتریان د ایم تې این مخابراتي شرکت د اړیکو دفې د قیقې د بیو څخه رضایت نلري. ګرافیکي ښودنه یې په لاندي ډول ده:




۴,۶شکل: د اړیکو د فې دقیقې د بیو څخه د مشتریانو رضایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا چې مشتریان د ایم ټي این مخابراتي شرکت د انترنت د بیو څخه رضایت لري او کنه؟، د راټولو شوو معولوماتو د تحلیل په پایله کې معلومه شوه چې: 34% ځواب ورکوونکو دا ویلي چې دوي د انترنت د بیو څخه رضایت نلري، او 31% ځواب ورکوونکو دا ویلي چې دوي د انترنټ د بیو څخه هیڅ رضایت نلري، او 27% ځواب ورکوونکو دا ویلي دي چې دوي د انترنت د بیو څخه رضایت لري، او 8% ځواب ورکوونکو دا ویلي دي چې دوي د انترنت د بیو څخه ډیر رضایت لري، نو په نتیجه کې ویلی شو چې یوه زیاته فیصدي مشتریان د ایم ټي این مخابراتي شرکت د انټرنټ د بیو څخه رضایت نلري. ګرافیکي ښودنه یې په لاندې ډول ده:




۴,۷ شکل:د انټرنټ د بیو څخه د مشتریانو رضایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا چې په ننګرهارولایت کې د ایم ټي این مخابراتي شرکت د مسیجونو د لیږلو د بیو څخه مشتریان رضایت لري او کنه؟، د راټولو شوو معلوماتو د تحلیل څخه وروسته دا معلومه شوه چې 38% مشتریان په ننګرهارولایت کې د ایم ټي این مخابراتي شرکت د مسیجونو د لیږلود بیو څخه رضایت لري،35% مشتریان د مسیجونو دلیږلو دبیو څخه رضایت نلري،9% مشتریان د مسیجونو د لیږلو د بیو څخه ډیررضایت لري او18% مشتریان د مسیجونو د لیږلو د بیو څخه هیڅ رضایت نلري، نو په نتیجه کې ویلی شو چې یوه زیاته فیصدي مشتریان د ایم ټي این مخابراتي شرکت د مسیجونو د لیږلو د بیو څخه رضایت نلري. ګرافیکي ښودنه یې په لاندي ډول ده:




۴،۸ شکل: د مسیجونو د لیږلو د بیو څخه د مشتریانو رضایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا چې په ننګرهارولایت کې د ایم ټي این مخابرتي شرکت د سیمکارتونو د بیو څخه مشتریان رضایت لري او کنه؟د راټولو شوو معلوماتو د تحلیل په پایله کې دا معلومه شوه چې، %36 مشتریان د سیمکارتونو دبیو څخه رضایت لري، %29 مشتریان د سیمکارتو د بیو څخه رضایت نلري، %24 مشتریان د سیمکارتود بیو څخه هیڅ رضایت نلري او %11 مشتریان دسیمکارتونو د بیو څخه ډیر رضایت لري، نو په نتیجه کې ویلی شو چې یوه زیاته فیصدي مشتریان د ایم ټي این مخابراتي شرکت د سیکارتونو د بیو څخه رضایت نلري. چې ګرافیکي ښودنه یې په لاندې ډول ده:




۴،۹ شکل: د سیمکارتونو د بیو څخه د مشتریانو رضایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


